دکتور ځلمی حقبین

۲۰۱٤/۰۲/۰٦

انتقالي عدالت باید پلی شي

لمړی برخه

له څو اونیو را په دېخوا هره ورځ د ورځپاڼو اووبپاڼو په مخونو کي د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د واکمنیو پېر د پنځو زرو زندانیانو شکمن نوملړ ښکته او پورته کیږي. ځیني وایي چې د هغوی وژونکي باید ژر تر ژره محاکمه شي ترڅو عدالت تأمین او نور کسان له دغي کار څخه عبرت واخلي. خوپه بل شمېرکسانوکي بیا خپله وینه دومره زیاته په حقه اوناحقه وجوشیږي چې پر خپل هېواد برسېره په بهرنیو هېوادونو کي هم پرخپلو هم اندوغېرکوي چې دپارلمانونو مخي ته مظاهرې جوړې کړي.
تر ټولو بده خبره خو دا ده چې دغه مظاهره چیان هم دې ته اړتیا نه لري چې تر خلکیانو وروسته د نورو رژیمونو جنایتکاران دې د عدالت په منګلو کي ووینې.که چېرې یو څوک ددې کار غوښتنه هم تري وکړي په لنډو ټکو کي ځواب ورکوي چې:
« دنورو رژیمونو پرضد اسناد نه لرو. کله چې اسناد لاسته راشي دهغوی پرضد به هم په خپل وخت کي دادول کار تر سره کړو».

دوی د خپل استدلال د پخولو لپاره داسي څرګندوي چې د خلکیانو رژیم په هکله د هالنډ غوندې یوه دموکرات هېواد دیوه څارنوال پلټنواو د یوې مړې شوي نوي کالني زړې جرمنۍ ښځي په کور کي میندل شویو اسنادو ثابته کړي ده چې د دوی کشف بیخي واقعیت لري. مګر دا هېروي چې هالنډ هم د نورو اروپایي هېوادونو په شان د ناتو تړون غړی او د متحدوایالتونو په مشرۍ د نورو لویدیزو هېوادونو سره بشپړه شریکه پالیسي لري.
دا افسانه رښتیا هم په مهارت سره جوړه شوي ده، ځکه چې د رښتیا پلټونکي به په کوم توان سره وکړای شي چې په جرمني کي مړه شوی نوي کلنه ښځه له مړستون څخه ژوندۍ راوباسي ترڅو اعتراف وکړي چې په رښتیا سره نوموړي اسناد په دې پورې اړه لري اورښتیني دي.

د کاشفینو کوچنۍ تېروتنه په دې کي ده چې د مړې شوي زړې ښځي له خوا یې نوموړي اسناد په استرالیا او یا د نړۍ په بل لېرې هېواد کي کوم بل چا ته هم استولي وای او هغه هم بیا په یوه ناڅاپي ترافیکي پېښه کي له منځه تللی وای. په دې صورت کي به بیا شیطان هم نه وای توانیدلی چې په دغه فلمي ننداره کي د رښتیا څرک ولګوي.

دمظاهره چیانو دې ډول چلند ته «په توتوپسي دخلکو استول» وایي چې په لویدیزو هېوادونو کي ډېر رواج لري.معمولاً دا ډول چلند دولتي بوروکراتان کوي، خو مظاهره چیان چې دا کار کوي دا نو بیا ددې مانا لري چې هغوی هرومرو د هېواد د اوسنۍ واکمنۍ اویا د هغوی د بهرنیو حامیانو په اشاره نځیږي.
د دې کشف په لړکي د دوکتور حمید سیماب څخه په مظاهره کي د مهم لوبغاړي په توګه ګټه پورته شوي ده. زه د دوکتور حمید سیماب په نوم یو څوک پېژنم چې په ۱۳٦۲ لمریز لېږدیز کال کي کله چې زه د څرخي پله زندان د لومړي بلاک په یوه کوټه کولپۍ کي بندي وم ، نوموړی ماته مخامخ کوټه کولپۍ کي اوسیده. دده په وینا د طب پوهنځی محصل او د ماویستانو سره داړیکو په تور یې بندي کړی و.

حمید سیماب په رښتیا چې ډېر حلیم او مهربان سړی و. سیماب صاحب ویل چې پلار یې یو وخت په اتریش، لبنان او داسي نورو هېوادونو کي د افغانستان سفارت د غړي په توګه دنده ترسره کړي ده. دی هم په کوچنیتوب کي هلته ورسره اوسیده. ښایي همدا سبب به وي چې په فرانسوي ژبه سم پوهیده خو جرمني ژبه یې هم تر یوې اندازې په یاد وه. سیماب صاحب په خپله کوټه کولپۍ کي زمونږ یو شمېر ملګرو سره د فرانسوي ژبي په زده کړه کي مرسته کوله.
ددوی سره له پېژندګلوۍ څخه یو کال دمخه ما په ډېرو ستونزو له استاذ پرته د خپل ځان سره یو څه جرمني ژبه زده کړي وه خو په سم تلفظ کي مې شک درلود چې ډېر یې ځورولم .د نړیوالو ژبو سره د ډېرې مینې له کبله مې په زندان کي د بهرنۍ ژبي سره بلد سړی ډېرغنیمت وګاڼه.نو ځکه مې د نورو ملګرو سره په ګډه له سیماب صاحب څخه د فرانسوي ژبي زده کړه پیل کړه. د فرانسوي ژبي د ګرامرلومړی کتاب مې له دوی څخه ولوست.
له نېکه او یا بده مرغه په دې وخت کي یې زمونږ کوټه کولپۍ ته د روستار تره کي په نوم د کابل پوهنتون استاذ چې په فرانسه کي یې تحصیل کړی و راوست. د فرانسوي ژبي د ګرامردوهم ټوک مې له روستارتره کي څخه ولوست. برسېره پر دې په فرانسوي ژبه کي د تلفظ ستونزې مې هم د دوی په مرسته حل کړې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

که چېرې ښاغلی دوکتورحمید سیماب په رښتیا هماغه سړی وي، بیا نو زه اوس د دوی په شغله ییتوب کې شک لرم، ښایي د پرچمیانو په ډله کې په کارملیانو پورې به یې اړه لرله. دا چې دوی اوس کټ مټ د کارملیانو غوندې له خلکیانو څخه کرکه لري او له ډاکتر نجیب الله څخه هم د یوه پښتون په توګه ناوړه یادونه کوي نو زما سره داسې فکر راپیدا کوي چې ښایي کارملیانو به زمونږ منځته دستوري رالېږلی وي. د شغله یانو جریان ته د ځان منسوبونه به یې ښایي د دې لپاره کړي وي چې مونږد زړه له کومې باور وربانديې وکړو. او زمونږ سره د نېږدې تماس په پایله کې به نوموړي شورویانو او کارملیانو ته داسې ثبوت وړاندې کړي چې خلکیان د شورویانواو کارملیانوپر ضد د ماویستانو سره اړیکې لري.

په دې وروستیو کې د حمید سیماب لیکنې او د دوی سره مرکې زما شک نور هم وربانديې پخوي.د نوموړي دا ډول غرضي استدلال چې د کارملیانود جنایتونوپه اړه ټول اسناد ډاکتر نجیب الله سوزولي دي هېڅ مفهوم هم نه لري. ځکه ښاغلی سیماب دې ته پام نه کوي چې چا چې په مهارت سره د « واد» (وزارت اطلاعات دولتی) وزیر اروابناد غلام فاروق یعقوبي وژلی او د جمهور رییس ډاکتر نجیب الله بهر ته د وتلو مخنیوی کولی شو اړتیا نه درلودله چې ډاکتر نجیب الله دې د دوی جنایتونه په نیمګړي توګه پټ کړي. دا ډول استدلال مونږ باوري کوي چې د راوروسته ټولو رژیمونو استازي چې د اوسني رژیم په شرکت کې پخه ونډه لري ، اوس به د نړیوالو انډیوالانو په مرسته په اسانۍ سره خپل جنایتونه پټ کړای شي.

که چېرې دا خبره واقعیت ولري ،بیا نو د انتقالي عدالت غوښتنه د پردیپالي رژیم تشه دموکراتیکه غوغا ده. دهمدې موخې لپاره اوسنی رژیم هم کټ مټ د کارملیانو په شان له همدا اوس څخه د خلکي رژیم د زندانیانو دشکمن پنځه زره کسیز نوملړپه فاتحې سره خپل او د خپلو انډیوالانو ټول جنایتونه پټوي.

ټول افغانان پوهېږي چې له خلکیانو څخه وروسته په یادشویو رژیمونو کې د انسانانو په ککریو کې د مېخونو ټک وهنه، د مړو ناڅاوې،د اوبو څاګانو ته د ژوندیو انسانانو ورغورځونه، له زندانیانوڅخه پر ډکو کانتینرونو باندې د ماشینګنو او راکټونو ډزې، پر ودونو، دخلکو په غونډواو مرکو باندې د الوتکو بمباری، د جګړې د بندیانو سره غیر انساني چلند، په خپل سرد کورونوتلاشی، په سپیانو باندې د ښځو او کوچنیانو داړونه، په یوه کال کې د سلګونو ښځو ځان سوزوني او ځان وژنې او د هغو سره ناوړه چلندونه، پر کوچنیانواو ښځو باندې جنسي تېري، دشخصي او دولتي ځمکو غصب، له بانکونو او ګمرکونو څخه د ملیاردونو افغانیو غلا، د تورو پیسو سپینونه او په غیر قانوني توګه دخپلې خوښې کسانو ته د غټو او کوچنیوقراردادونو ورکونه، د دولتي مؤسسواو تصدیودیوالي کونه اوپه ټاکلو کسانو باندې په ارزانه بیه دهغو خرڅونه، د اپینو او مخدره توکو د کاروبار زیاتونه او د هغې لپاره د نړیوالي مافیا منځته راوستنه او داسې نورهغه مستند اسناد دي چې هېڅوک ترې سترګې نه شي پټولای؛ ځکه دا ټول د افغانانو په غمجنو زړونو کې په سرو وینو لیکل شوي دي.
ددې سره سره دغه ښاغلي مظاهره چیان دومره ډېر په قهر دي چې غواړي د خلکیانو رژیم هغه کسان هم دعدالت محکمې ته راوکاږي چې دجنایت په ترسره کولوباندې تورن هم نه وي. ددې لپاره د دوی مهم ذهني دلیل دادی چې هغوی ولې د جنایتونو د ارتکاب په مهال خپل غبرګون نه دی څرګند کړی.
دې ډول استدلال ته سفسطه ویل کیږي .ځکه که چېرې هغې ته دوام ورکړل شي، نو په ټولو رژیمونو کې بېوسه کسانو همدا حال درلود. په دې صورت کې به ټول بېواکه او بې وسه افغانان تورن او اصلي جنایتکار به په کې ورک شي. دغه محترم رونړ اندې په کستي توګه دوه رنګی قضاوت کوي او دا له پامه غورځوي چې په دې سره دملي مسئلوپه اړه د دوی پر صداقت باندې د خلکو باورته ستر تاوان اړوي. څرګنده ده چې دغسې معلوم الحاله مظاهره چیانو ته له خپل ځان څخه پرته بل هېڅوک هم د رښتینو او بې پلوه رونړ اندو خطاب نه کوي.

خو په دې لړ کې څو ورځې لا تېرې نه وي چې د نورمحمد تره کي او حفیظالله امین د مهال په هغه پنځه زره کسیزنوملړ کې د ډېرو کسانو هویت هم مبهم راووځي او څوک یې نه پېژني. د استاذ سیاف غوندې ځینې کسان خو ان تر اوسه په کې داسې فعال ژوندي دي چې د دولت په لوړومقامونو کې ورځنۍ چارې سرته رسوي اواوس یې د ټاکلي مذهبي تنظیم په استازیتوب د هېواد اولسمشرۍ ته هم خپل ځان نوماند کړی دی.

ژوند د هر افغان طبیعي حق دی ،هېڅوک هم په بې قانونۍ او بې عدالتۍ سره د هغې د اخیستلو حق نه لري. پنځه زره کسان خو بیخي ډېردي، ان دیوه بې ګناه افغان وژونکی او ربړوونکی هم باید بې سزا پاتې نه شي.خو پوښتنه داده چې ولې پنځه دېرش کاله وروسته اوسني رژیم ته د نورمحمد تره کي او حفیظالله امین د واکمنیو مهال د زندانیانو شکمن نوملړ ورپه یاد شو ؟
که چېرې دغه ښاغلي غواړي په رښتیا سره ظالمانو او جنایتکارانو ته د هغوی د اعمالو وړ سزا ورکړای شي نو بیا ډېره ښه ده چې هېواد او خپلو خلکوته د متعهدو هېوادوالو په څېر لرترلړه له پنځه دېرشو کالونو را په دېخوا د ټولورژیمونوکړه وړه په بشپړې بې پلوۍ سره وڅېړي.له تبلیغاتي بڼې پرته دې د هرې ډلې او تنظیم خپل حقیقي نوم او کړه وړه ورپه ګوته کړي. اوس

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو هر پردی پالی او ملي ضد رژیم له خپل واک څخه د ناوړه ګټې اخیستوپه مرسته د خپل رژیم د مخالفینو په وړاندې په حقه او ناحقه تورونه لګوي. په خپله محکمه کې یې د خپلې خوښې سره سم محاکمه کوي.

ایا د نورمحمد تره کي او حفیظالله امین له شل میاشتنی واکمنی څخه په راوروسته رژیمونو کې هېڅوک هم بندي شوي یا وژل شوي نه دي؟ که چېرې له چا څخه هېر وي، بیا نو ښه ده چې په ګډه رڼا ورباندې واچوو :

د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین له شل میاشتنی واکمنی څخه وروسته د افغانستان په پاکه خاوره باندې د شورویانو د وسله وال تېري او د مخ توري لاسپوڅي ببرک کارمل او ډاکتر نجیب الله د واکمنیو په دوولس کلنه موده کې په سلګونو زره افغانان زندانونو ته واستول شول.که چېرې څوک غواړي هویت یې وپېژني نو د هغوی مفصل نوملړ د امنیتي ادارو په ارشیف کې شته. زه هم د هغه مهال د زندانیانو له ډلې څخه یم.
هغه وخت یاني په افغانستان باندې د شورویانو له یرغل څخه وروسته موده کې داسې میاشت نه وه چې په سلګونو زندانیان به په کې نه اعدام کیدل. په هغه دوولس کلنه موده کې د شورویانو او کارملیانو له وېرې یواځې ایران او پاکستان ته په ترتیب سره درې او شپږ ملیونه افغانان وتیښول. د هېواد د ویجاړی کچه او په جګړو کې د وژل شویو او معیوب شویو افغانانو شمېر خو ټولو ته څرګند دی چې تر دوو ملیونو کسانو هم ډېر دی. د نورمحمد تره کي او حفیظ الله د واکمنیو پر مهال د لویدیزو رسنیو دپروپاګندو له مخې یواځې پنځه دېرش زره مرورکډوال په پاکستان کې مېشت وو.ایا دغه ټولې پورته یاد شوي شمېرې د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د واکمنیو مهال د زندانیانوله پنځه زره کسیزشکمن نوملړڅخه لږې دي؟

اوس نو که چېرې په افغانانو باندې د زړه سواندي ښودلو لپاره ډېره اړتیا وه نو بیا بایده وو چې ترهرڅه د مخه د شورویانو د تېري او د هېواد پلو رونکو کارملیانو د لاسپوڅي واکمنی پر مهال د ملیونونو افغانانود وژلواو له خپل ټاټوبي څخه د هغوی د شړلو په هکله سرترسري ماتم اعلان شوی وای. خو داسې ونه شول اونه کیږي!

ددې لپاره چې هغه وخت شورویان خپله بېرحمي او افغان وژنه د خلکو له ذهنونوڅخه هېره کړي نو له خپلې ماتي او د کارملیانو له ناکامی څخه وروسته یې په پلان شوي توګه د فاسد شویو مجاهدینو غوبل ته لمن ووهله. ددغه غوبل په لړکې یاني د مجددي صاحب اوپه خاصه توګه د استاذ برهان الدین رباني د واکمنیو پر مهال یواځې د کابل په ښار کې تر پنځه شپېتو زرو زیات افغانان ووژل شول. په همدغه ښار کې یې د هېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د «مړو نڅا» رواج کړه، د انسانانو په ککریو کې یې مېخونه ټک وهل، د ښځو سینې یې پرې او په عام محضر کې یې اولاد زېږیدنه ننداري ته وړاندې کړه.
ایا دغه ټول په مؤثقواسنادو کې نه راځي؟ خو اوسني واکمنان او د دوی بهرني انډیوالان پر دغو ټولو جنایتونو باندې پټه خوله پاتې دي! داسې بریښي چې اوسنی پردیپالی رژیم د شریکو ګټو لپاره د ټولوبهرنیانو سره په ګډه یوه خوله شوی دی! هو، شورویان خپلې موخې ته ورسیدل، ځکه د فاسد شویو مجاهدینو سترو جنایتونو د شورویانو درواغ، بشر ته د هغوی دوه مخی احترام اود افغانانو پرضد ترسره کړي جنایتونه سپین (تبرئه) کړل.

پرځای پوښتنه راولاړیږي چې ولې اوسني پردیپالي رژیم ته د شورویانو او کارملیانو له خوا د ملیونونو افغانانو د وژلو، بندیانولو او له هېواد څخه د هغوی د شړلو او د فاسد شویو مجاهدینو له خوا تر سلګونو زرو هم ډېرو وژنو، او بې ساریو بشري ضد جنایتونو د سرته رسولو په پرتله د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د واکمنیو پېرد پنځه زره زندانیانوشکمن نوملړ مهم دی؟

د ټولو افغانانو په یاد دي چې د فاسد شویو مجاهدینود سترو جنایتونوپه غبرګون کې د هغوی له منځه د طالبانو په نوم پر هېواد، خپلوخلکو او اسلام مین مجاهدین راولاړ شول.هغوی د تاریخي جنایتکارانو رژیم نسکوراو د دولت واګې په لاس کې واخیستل. خو د خلکیانو په شان په دولتي چارو کې د نابلدی له امله دوی ته هم هغو چا ناسمه سلا ورکړه چې دپاکې اسلامي عقیدې په باور یې په خپلو لیکو کې منلي اوله خپل ځان څخه یې هم پر هغوی ډېر باور درلود. ددغو قصدي ناسمو سلاوواو د بهرنیو استخباراتي شبکو د فشاراو ټینګار په پایله کې دوی داسې اسلامي رژیم ایجاد کړچې په سیمه کې خولا پرېږده ان په خپله سعودي کې یې هم ساری نه درلود.

دا بشپړ واقعیت دی چې طالبانو په هېواد کې امنیت راوست ، په لږه موده کې بریالي شول چې د ټاکلو تدبیرونوپه پلي کولو سره د اپینو تولید او کاروبار په ټپه دریدلو ته نېږدې کړي. خو د دوی په منځ کې د اسلام تر پردې لاندې د پردیو استخباراتي شبکو شتون اود فاسد شویو مجاهدینود ناوړه کړو وړوپه پایله کې د هغوی رژیم بدنام او د بهرنیو استخباراتي شبکواو القاعدې د نفوذ له امله یې داسې اسلامي اصول جاري وساتل چې د پېړیو پېړیو مسلمان افغانان یې خپلې مقدسې عقیدې ته هک پک اریان پاتې کړل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر خپل ځان له کچې زیات باور او د خپلوپرنسیپونود غیرواقعي پلي کونې له امله دوی هم هغه تېروتنه تکرار کړه چې له دوی څخه مخکې خلکیانو کړي وه. پام وکړئ چې دلته زمونږ په هېواد کې د افغانانو په لاس د سم او ملي رژیم د جوړولو پر ځای د ډېر ناوړه رژیم په راوستلو کې بیا هم د بهرنیانو او دهغوی استخباراتي شبکوپټ لاس درلود.
دغو لاملونودوی له اولس څخه تجرید اود بهرنیانو له لارې د خپل رژیم نسکورولو، د هېواد تباهی او بلواکی ته داسې زمینه مساعده کړه چې دخاورې بشپړتیا یې د خطر سره مخامخ کړه.
د یادولو وړ ده چې د خلکیانو او طالبانو په کړووړو کې ډېر ټکي سره ورته وو ، دساري په توګه:
الف – دواړه ډلې په لومړي ځل د خپلونیمګړو تجربو سره د عام اولس له منځه د واکمنی ډګر ته راوتلي وې ؛
ب - دواړو ډلو پرخپلو ارمانونو باندې کلک او صادقانه باور درلود؛
ج – دواړو ډلو د هېواد د سمسورتیا او سالمې ودې سره مینه لرله؛
د- دواړو ډلو په دولتي او سیاسي چارو کې د لږې تجربې سره سره د بهرنیانوله اعمالي اقتصادي مرستې پرته یواځې پرخپلو متو تکیه لرله؛
ه – دواړه ډلې د هغو چا په غرضي سلاوو وغولیدلې چې له خپلو ځانونو څخه یې زیات باور پرې درلود؛
و – په طبیعي توګه د دواړو ډلو ډېری غړي پښتانه اوغیر ښاري هېوادوال وو؛
ز- دواړو ډلوپرخپل ځان او وچ صداقت باندې د زیات باور له امله یواځې پر خپلو سازمانونو تکیه کوله او له همفکره دوستانو څخه یې د خیالي او بې الایشه مرستې هیله لرله؛
ل- ټولوکورنیووطن پلورونکو ډلوټپلو او بهرنیو ارتجاعي او جاسوسي شبکود دواړو ډلو پرضدلاسونه سره یو کړي وو؛
م – دواړو ډلو د خپلو اصولو دپلي کولو په لاره کې د خلکو د ملي او مذهبي دودونو ترڅنګ د بهرنیانو په لمسون د کورنی ارتجاع دسیسې او توطئې له نظره غورځولي وې؛
ن – دواړه ډلې دسمسوراوپیاوړي افغانستان د جوړولو په لاره کې د هغو مکارو دښمنانو په لاس نسکورې شوې چې د دا ډول افغانستان سره یې ژور مخالفت درلود.

پورته ځانګړوخصوصیاتو، د« القاعده » سره د تړاو ناحقه تور، د متحدو ایالتونود کروز توغندیواود B-۵۲ الوتکو بمباریو د طالبانو رژیم ړنګولو او اوسني پردیپالي رژیم راتللو ته زمینه برابره کړه.
هغه وخت د ډېرو شیانو پوهیدنه دومره اسانه نه وه، خو اوس څرګنده شوه چې د افغانستان دهغه وخت کړکېچن حالات د نړیوالوزبرځواکونو د ژور پلان له مخې منځته راغلي وو.

د نیویارک د لوړ پوړیزو ټاپوګانو الوزونه د هغه پلان یوه برخه وه چې افغانستان ته د متحدو ایالتونو په مشرۍ د لویدیزو هېوادونو د راتللو لپاره یې په اسانۍ سره زمینه مساعدوله.
د امریکا متحدوایالتونو د القاعده شبکې او بن لادن په دستور د خپلولوړپوړیزو ودانیو الوزونه د طالبانو رژیم ته د اسنادو له وړاندې کولو څخه پرته پلمه کړه او نوموړی رژیم یې په بېرحمۍ سره راوپرځاوه.
امریکایانو هم د شورویانو په شان په افغانستان کې ددې لپاره د ټوپک سالارانو او زورواکانو ګډوډې جوړه کړه چې د سولې، دیموکراسۍ، ازادۍ، ودانۍ، سوکالۍ او قانونیت د خالي غوړ شعار ترپردې لاندې زرباورې او ارمانجن افغانان په اسانۍ سره وغولوي. دوی په زرګونو طالب جنګیالي او بېګناه افغانان د کروز توغندیو او۵۲ - B الوتکو د بمباریو ترچترلاندې د جنګسالارانواو وحشي ملېشو په لاسونو ووژل. متحدو ایالتونو د القاعدې سازمان له خوا د خپلو درو زرو امریکایانو د وژلو په بدل کې د افغانستان بېګناه اولسونه او په خاصه توګه پښتانه بېرحمه بمباري کړل. د سپین ږیرو او قومي مشرانو د موټرو کاروانونه یې بمبار او د ودونو خوشالۍ یې په غم ولړلې. د دیموکراسۍ د تش غولوونکي شعار په ورکولو سره یې په هېواد کې رښتیني ګډوډي او انارشي رامنځته کړه.

د امریکا متحدو ایالتونود بن په غونډه کې دخپلې خوښې سره سم د یو څوتنو تکنوکراتانو په ګډون د جنګسالارانو او قومي متعصبینو ناولي مافیایي اداره جوړه کړه.
په لومړي سر کې متحدو ایالتونو زمونږپه هېواد کې خپل شتون دملګرو ملتونو د امنیت پر شورا باندې تأیید او ومانه. بیا یې د افغان روڼ اندو د غولولو لپاره د دیموکراسۍ جالب شعار راپورته کړ.زرباوره روڼ اندي ډېر ژر دهغه تر اغېز لاندې راغلل. په پای کې یې د یو شمېرجاه طلبو کسانو په مشرۍ ترسلو زیات داسې سیاسي او ټولنیزسازمانونه او بې اغېزې ګوندونه ایجاد کړل چې د روڼ اندو په خپل منځې بوختیا او دهغوی په سره پاشلو کې یې مهم رول ولوباوه.
لږه کیو قومونو ته د خپل حقه حق د ورکړې او د دیموکراسۍ ترغولوونکي غرضي شعار لاندې یې د هېواد قومونه د یو او بل پر ضد بېځایه راولمسول.
د هېواد کیڼ لاسي ګوندونه او خوځښتونه یې د کمونستانو او ملحدینو په نوم ترترټلواو بد نامولو وروسته له سیاسي ډګرڅخه وایستل، خو دهغوی په منځ کې یې هم ترټولو زیات فاسد شوی او په پیسو مین کسان د تېرې طبقاتي مخینې پر بنسټ د خپلو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موخود پلي کولو لپاره ولټول او بيا يې د فاسد شويو مجاهدينو سره يو ځای کړل. ددغو چپيانو له خوا د دوی دغوښتنو ترمنلو وروسته هغوی نه کمونستان شول، نه ملحدين او نه کيڼ لاسي.
دې کار په خپله وښودله چې پر چپو او ملي ګوندونو باندې د کمونست اوملحد نوم يواځې دهغوی د بدناموليو او له اولس څخه د هغوی د ګوښه کولو په موخه ايښودل شوی و.
تر هغې وروسته متحدو ايالتونو له لويديزو هېوادونو څخه هم يو شمېرپه پيسو مين او فاسد عناصر خپلو ژورو موخو ته د رسيدو لپاره په ډاډمنه توګه د جنګسالارانو ، فاسد شويو کيڼ لاسو او قومي متعصبينو سره يو ځای د واک پر ګد ی کېنول.

کله چې له خپلو لاسته راوړنو څخه تر يوې اندازې ډاډ من شول ، بيا يې د پيسو او برچې په زورله فساد او درغليو څخه ډک انتخابات په لاره واچول. زورواکانو او جنګسالارانو ته يې د فيوډالېزم پېر په شان د دولتي او شخصي ځمکواو ملکيتونو د چور، تالان اوغصب زمينه برابره کړه.د پيسواو رنګارنګ هيله مندیو په مرسته يې د روحانيونو او با نفوذه کسانو په راټولولو پيل وکړ. د پانګه والی نظام د جوړولو په موخه سړي تښتوني، لوټمارۍ او سړي وژني پيل شوې. د وسلو او مخدره موادو له لارې لاسته راغلي توري پيسې د امريکايانواو نورو لويديزوالو په زور او مرسته سپيني شوې. په دغو پيسو سره په ارزانه بيه دولتي ځمکې او دولتي ملکيتونه وپېرل شول. پر غصب شويو ځمکو باندې شخصي ښارګوټي ودان او د پلورل شويو نمرو پيسې بهرنيو بانکونو ته ولېږدول شوې.
دبهرنيانو د خوښې سره سم کار کوونکو او لاسپوڅوغوږ نيوونکو ته د مليونونو ډالرو قراردادونه ورکړل شول. په پای کې په ټول هېواد کې د فساد او لوټمارۍ لپاره په پلاني توګه پراخه لمن ووهل شوه. د پيسو او بډايۍ سره مينه په بې ساري توګه وهڅول شوه. د پيسو سره زياتې مينې په ټولنه کې ډېر کسان بې لارې او اخلاق يې ورکمزوري کړل. هغه اسلامی او انساني نېک ارزښتونه چې دپېړيو پېړيو په اوږدو کې د خلکوتر منځ رواج شوي وو دپيسو سره د خورا زياتې مينې له امله دومره ژور په اوبوکې لاهو شول چې دهغو له امله د پلرونو او اولادونو، خويندو او ورونو، خپلوانو او دوستانو ترمنځ مينه نه يواځې په غبن او منافقت بدله شوه بلکې په همېشنۍ دښمنۍ واوښته.

په ټولو ادارو کې په پلان شوي توګه د رشوت او فساد لپاره داسې زمينه برابره شوه چې له امله يې زمونږ هېواد په نړۍ کې د فساد له مخې لومړی مقام وګاټه. لنډه دا چې د ځمکې دپاسه او د ځمکې لاندې شتمنيو د لوټ لپاره داسې زمينه منځته راغله چې دهېواد په ټول تاريخ کې يې ساری نه و ليدل شوی .

اوس د اولسونو د غولولولپاره د فساد او د ځمکو د غاصبينو پرضد په تشوخبرو کې دوه مخې اوغولوونکې مبارزه روانه ده. تش په نوم د فساد ضد رنګارنګ بې واکه ادارې جوړيږي.له اولسمشره تر عادي افغانه او د نړيوالې ټولنې تر بشرپالو پورې ټول يواځې نارې وهي چې په هېواد کې فساد دی ، خو هېڅوک د دغې فساد مخنيوی نه کوي. تش په نوم دولت شته خوقوانين يې څوک نه مني.

د لمړی برخه پای

دوام لری

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ